# ټانک: د مقامی قبائلو د خوارجو پر وړاندې ستره بریا تر ټولو مطلوب ترهګر مشر دوزخ استول شوی

د ټانک په مضافاتی دری خیل سیمه کې د ځایي قبائیلو سره د ډزو په تبادله کې د ټي ټي پي د مشهور او مهم مشر فریدالله عرف پارکي په ګډون دوه خوارجیان سخت ژوبل شوي چې یو نزدې کلي ته وړل شوي دي۔

**ځایي خلکو امنیتي ځواکونو ته د ټپیانو د لیږدولو خبر ورکړ، چې پر امنیتي ځواکونو یې برید وکړ او ټپي خوارج او د هغوی ملګري یې په نښه کړل۔**

**د سکیورټي فورسز سره د ډزو په تبادله کښې بزدل ترهګر ژوبل شوي ترهګر امجد له ګاډي سره په تېښته بریالي شول۔ باوري سرچینو د ترهګرۍ د تر ټولو مطلوب مشر فریدالله عرف پارکي وژل کیدل تائید کړي دي. په داسې حال کې چې د تل په څېر د خوارج بزدله رهبري د خپلو وژل شویو ترهګرو په پېژندلو کې زړه نازړه ده۔**





**ترهګر پاریکے د دره خیلو اوسیدونکی او د تحریک طالبان پاکستان د ډلې مشر و۔ چې د بې ګناه خلکو په نښه کولو، له ټهیکدارانو څخه په بهتو اخیستو او پر پولیسو او امنیتي ځواکونو په څو تروریستي بریدونو کې لاس درلود۔ ځایي اوسېدونکي د دغه بهرني وګړي پر وژل کېدو خواشیني څرګندوي۔**

ځایي خلک د ترهګرو پر وړاندې وسله پورته کوي او د دوی پر وړاندې د سختې کرکې څرګندونه کوی۔ له بلې خوا امنیتي ځواکونه د خلکو په ملاتړ د دغو خوارجو په تعقیب کې دي او د خوارجو دوزخ ته د استولو لړۍ روانه ده۔